# په وینوسره

د وطن هره دره په وینو سره ده
هره دښته اومیره په وینوسره ده

اوس د کلي هرګودرپه وینوسوردی
هم د هرکلي دیره په وینوسره ده

هلته برزمونږقبرونه واړه سره دي
زمونږهره هدیره په وینوسره ده

هردیوال یی په سرووینولړل شوی
اوس د هرملک حُجره په وینوسره ده

اوس د هرکلي جومات په وینوسوردی
یکی هره سپاره په وینوسره ده

**په ناحقه په ډُروخلک وهل کيږي**

**د ملا صيب ډُره په وينو سره ده**

**لا د سولی اسره مړه نده،ژوندۍ ده**

**خو قيامه دا اسره په وينو سره ده**

**الحاج الهام الدين قيام**

17/04/2014